## ځانګړې زده کړه څه شی ده؟

**ځانګړې زده کړه خدمت دی، نه ځای**

کله چې ماشوم ځانګړې زده کړه ترلاسه کوي، دا په دې مانا ده چې عامه ښوونځي د زده کوونکي اړتیا ته په پام سره خدمات او تدریس وړاندې کوي. ځانګړې زده کړه د فدرال د قانون په اساس چمتو کېږي چې د معولولیت لرونکو افرادو لپاره د زده کړې د قانون (IDEA) په نامه یادېږي، چې د معلولیت لرونکو زده کوونکو او د هغوی د والدینو لپاره ځانګړې قانوني خدمات چمتو کوي ترڅو وکولای شي د زده کړې دغه انفرادي فرصتونه ترلاسه کړي.



### د ځانګړې زده کړې خدمات څنګه کولای شي ستاسو له ماشوم سره مرسته وکړي؟

- که چېرې ستاسو ماشوم د ځانګړې زده کړې لپاره په شرایطو پوره وي، ستاسو ماشوم به هغو خدماتو او ملاتړ ته لاسرسی ولري چې په ځانګړې توګه ستاسو د ماشوم د اړتیاوو د پوره کولو لپاره طراحي شوي دي.
- د ځانګړې زده کړې خدماتو ستاسو لپاره په وړیا توګه انفرادي پروګرام چمتو کوي چې کېدی شي د ځانګړې زده کړې ښوونکي او خدماتو چمتو کوونکي هم پکې شامل وي، لکه مسلکي معالجین، فزیکي معالجین، د وینا د ژبې رنځپوهان، او د لوستې په برخه کې د ستونزې لرونکو کسانو لپاره د تدریس چمتو کوونکي.

## د ځانګړې تعلیم پروسه:

والدین د دې حق لري چې هر وخت د ځانګړې زده کړې د ارزونې غوښتنه وکړي. له ښوونځیو غوښتنه کېږي چې زده کوونکي هغه وخت د ارزونې لپاره راجع کړي کله چې په هغوی کې داسې معلولیت په ګوته شي چې د ځانګړې زده کړې خدماتو ته اړتیا لري. دا مهمه ده چې **د ځانګړې زده کړې د پروسې د ګامونو په هکله پو شو.**

**د ځانګړې زده کړې د پیل ګامونه:**

1. ارجاع
2. د ارزونې لپاره رضایت
3. ارزونه
4. په شرایطو د پوره والي په ګوته کول (ARD)
5. د IEP پراختیا

**د ځانګړې زده کړو د خدماتو ترلاسه کول:**

← د IEP تطبیق

**د والدینو په توګه د خپلو حقونو په هکله نور معلومات کولای شئ لاندې ومومئ:**

**د ARD پروسې لپاره د والدینو لارښود**
bit.ly/ParentsARD

**د خوندیتوب د طرزالعملونو په اړه خبرتیا**
bit.ly/ParentsNPS

SPEDTEX Special Education Information Center
**د والدینو لپاره د ځانګړې زده کړې مرسته**
spedtex.org
1-855-773-3839

نور داسې فدرالي قوانین هم شته چې د معلولیت لرونکو زده کوونکو لپاره ځانګړې مرستې چمتو کوي - لکه د 1973 کال د بېرته رغونې د قانون504 برخه - IDEA یوازې د هماغه قانون په اساس ځانګړې حقونه چمتو کړي دي. دغه سند د هماغه حقونو لنډیز وړاندې کوي.

## 1 د ځانګړې زده کړې د ارزونې لپاره ارجاع شوې ده.



**ارجاع:**

- د قانون له مخې اړینه ده کله چې عامه ښوونځی داسې وانګیري چې ستاسو ماشوم د داسې معلولیت لرونکی دی چې د بریالیتوب لپاره د ځانګړې زده کړې خدماتو ته اړتیا لري.
- د ځانګړې زده کړې د ارزونې لپاره *غوښتنې* ته ویل کیږي، کله چې والدین دغه غوښتنه کوي. غوښتنه باید په لیکلې بڼه اړونده کارمندانو ته وشي. ښوونځي د معلوماتو په وړاندې کولو سره ځواب ورکړي چې آیا ارزونه ترسره کوي کنه.

ښوونځی باید په 15 ښوونیزو ورځې کې په لیکلې بڼه ځواب ورکړي.

## 2 تاسو به وپوښتل شئ چې آیا رضایت لرئ کنه چې ښوونځی ستاسو د ماشوم ارزونه وکړي.



**د ارزونې لپاره رضایت:**

- هغه اجازه ده چې تاسو یې په ځانګړې توګه روزل شوو کارمندانو ته ورکوئ ترڅو په ځانګړې ساحه کې ستاسو د ماشوم ارزونه وکړي.
- د ښوونځي له خوا کارول کیږي ترڅو هغه مالوېش پیل کړي چې له مخې یې ښوونځی باید ستاسو د ماشوم ارزونه بشپړه کړي.

له ځینو توقعاتو سره، ارزونه باید په 45 ښوونیزو ورځو کې بشپړه شي.

## 3 ارزونه د متخصصینو د رزول شوي ټیم له خوا ترسره کیږي.



**ارزونه:**

- *بشپړې انفرادي او ابتدایي ارزونې* (FIIE) ته ویل کیږي، چې د تعلیمي سپارښتنو، راپور او ستاسو د ماشوم د وړتیاوو، لېوالتیاوو، او ننګونو په هکله لیکلی راپور پکې شاملیږي. د مشکوک معلولیت روزل شوي متخصصین باید برخه پکې واخلي، د بېلګې په توګه د لوست په برخه کې د ستونزه لرونکو کسانو جواز لرونکی معالج که چیرې د لوست په برخه کې د ستونزې شکمن موارد شتون ولري.
- ستاسو لپاره وړیا ترسره کیږي. که تاسو د ښوونځي له ارزونې سره موافقت ونکړئ، تاسو کولای شئ د *خپلوکې تعلیمي ارزونې* (IEE) غوښتنه وکړئ. دا به د داسې چا له خوا ترسره کیږي چې د ښوونځي له خوا نه وي ګومارل شوی.

## 4 د نوملیکنې، ارزونې او اخرج (ARD) کېمټه غونډې ترسره کوي ترڅو دا په ګوته کړي چې آیا ستاسو ماشوم د ځانګړې زده کړې لپاره په شرایطو پوره دی کنه.

**د ARD کمېټه:**

- ستاسو، ښوونکو، د ښوونځي د مدیرانو، هغو کسانو چې ستاسو د ماشوم په هکله ځانګړی تخصص لري، او د شکمن معلولیت په هکله د ځانګړو روزل شوو متخصصینو ټیم دي.
- په دغه غونډه کې، ستاسو د ماشوم د ارزونې په هکله بحث، ستاسو د ماشوم د وړتیاوو او کمزورتیاوو په ګوته کول، او بیا دا په ګوته کول چې ایا ستاسو ماشوم معلولیت لري کنه او د ځانګړې زده کړې اړتیا.



کله چې د ارزونې راپور بشپړ شي، د ARD کېمټه معمولاً 30 تقویمي ورځې وخت لري ترڅو په شرایطو برابروالی څرګند کړي او IEP ترتیب کړي. ښوونځی به د ارزونې راپور هر څومره ژر چې کیږي، چمتو کړي مګر حداکثر د ARD کمیټې له لیدنې څخه پنځه تعلیمي ورځې مخکې، تر دې وروسته نه.

## 5 که چېرې ستاسو ماشوم د ځانګړې زده کړې د خدماتو لپاره په شرایطو پوره وي، نو ARD کمېټه به همدارنګه د انفرادي زده کړې پروګرام (IEP) ورته ترتیب کړي.



**IEP:**

- د هغو معلوماتو راټولو دي چې ستاسو د ماشوم معلولیت په ګوته کوي، ستاسو د ماشوم اوسنی وړتیاوې او کمزورتیاوې په ګوته کوي، هغه اهداف په ګوته کې چې باید کار ورباندې وشي، او د ځانګړې زده کړې اړونده هغه خدمات ښيي چې ستاسو د ماشوم د بریالتوب لپاره اړین دي.
- داسي یو سند دی چې ښوونځی یې باید له ډېکولو وروسته تعقیب کړي، او تاسو د خپل ماشوم لپاره د خدماتو د ترلاسه کولو توافق کوئ. خدمات به څومره ژر چې امکان ولري پیل شي.

**تاسو د IEP په ترتیب او جوړولو کې د ګډون حق لرئ او توافق کوئ یا یې نه کوئ چې ستاسو ماشوم دې د ځانګړې زده کړې خدمات ترلاسه کړي.**

## مخ پر وړاندې تګ: د ځانګړې زده کړې د خدماتو ترلاسه کول



کله چې IEP ترتیب شي، دا د ښوونځي مسئولیت دی چې IEP تطبیق کړي. ښوونځي باید په IEP کې تشریح شوي خدمات، آسانتیاوې، او مرستې چمتو کړي، او د ښوونځي کارمندان به په IEP کې د ټاکل شوو موخو په لور ستاسو د ماشوم د پرمختګ څارنه کوي.

- تاسو به د خپل ماشوم د IEP اهدافو په اړه لږ تر لږه یو ځل د ټولګي په موده کې راپور ترلاسه کوئ.
- د ARD کمېټه به لږ تر لږه په کال کې یو ځل ستاسو د ماشوم IEP ګوري او ارزونه به یې کوي.
- د ARD کمېټې د غړي په توګه، تاسو به له لږ تر لږه په هرو دریو کلونو کې یو ځل د نوې ارزونې د اړتیا په هکله بحث کوئ.
- تاسو هر وخت کولای شئ د ARD کمېټې د غونډې غوښتنه وکړئ.
- تاسو کولای شئ د ځانګړې زده کړې لپاره خپل رضایت فسخه کړئ. په بله مانا، تاسو کولای شئ ښوونځي ته په لیکلي بڼه خبر ورکړئ چې تاسو غواړئ د خپل ماشوم لپاره د ځانګړې زده کړې خدمات بند کړئ.
- د ښوونځي د نظم لپاره ځانګړي قوانین شتون لري. که چېرې ستاسو د ماشوم معلولیت د ناسم چلند د واقع کېدو لپاره دلیل وګڼل شي، د ARD کمېټه کولای شي په ځانګړو حالاتو کې، په انضباطي عواقبو کې بدلون راولي.

## که چېرې اختلاف رامنځ ته شي:

د ARD کمېټې د هرې غونډې په جریان کې به تاسو یو فعال ګډونوال یاست، د ښوونځي له کارمندانو سره به د خپل ماشوم د ځانګړو اړتیاوو په هکله خبرې کوئ ترڅو د وړاندې تګ لپاره غوره توافق ته ورسېږئ. اما د وخت په تېرېدو سره، تاسو کېدی شي د ښوونځي له پرېکړو سره مخالفت وکړئ. *د فدرال IDEA د قانون له مخې، تاسو رسمي حق لرئ ترڅو د ځانګړې زده کړې د هغو پرېکړو مخالفت وکړئ چې د ښوونځي له خوا کېږي، په دوادو هغو مراحلو کې چې ځانګړې زده کړه پیلېږي او کله چې د ځانګړې زده کړې خدمات ترلاسه کوئ.* د شخړې د حل په ګزینو کې د ایالتي شکایت پاڼو ډکول، د منځګړيتوب غوښتنه، او د پروسې د مناسبې استماعیې غوښتنه شاملېږي. دولتي تسهیلوونکي هم شتون لري ترڅو له ARD کېټو سره د IEPs په اړه توافق ته د رسېدو په برخه کې مرسته وکړي.

## په IEP کې څه دي؟:

**IEP باید ستاسو د ماشوم لپاره ځانګړو اجزاوو ته رسیدګیی وکړي، لکه:**



**PLAAFP**

» *د اکاډمیکو لاسته راوړنو لپاره د والدینو کچه او عملیاتیي اجراآت* :(**PLAAFP**)د ARD کمیټه ستاسو د ماشوم مهارتونه، وړتیاوې، او ننګونې د ارزونې د راپور او نورو معلوماتو په اساس یاداشت کوي.

**موخې:**

» د اندازې وړ کلنی **موخې**: موخې ټاکل کیږي ترڅو ستاسو د ماشوم په ځانګړو اړتیاوو باندې تمرکز وشي او دا څرګنده شي چې کله به ستاسو د ماشوم د پرمختګ تمه کیږي.

- که چیرې ستاسو د ماشوم د لوست په برخه کې ستونزه لري، د بېلګې په توګه، موخه کېدی شي په ځانګړې موده کې د لوست د پراختیا په ځانګړې برخه یا فصاحت باندې تمرکز وکړي.

**تدریس او خدمات**

» د ځانګړې **طراحي شوې زده کړې، اړونده خدماتو، او فرعي مرستو او خدماتو** تشریح چې چمتو کیږی به. تدریس او خدمات به ستاسو د ماشوم ځانګړو اړتیاوو ته په پاس سره فرق کوي. د بېلګې په توګه، که چیرې ستاسو په ماشوم کې د زده کړې اختلال په ګوته شي:

- په ځانګړې توګه په طراحي شوي تدریس کې به په لوړه کچه د روزل شوي چمتو کوونکی له خوا د تدریس لپاره په منظم ډول د مهالویش مطابق ټاکلي وختونه شاملیږي او له داسې پروګرام څخه به استفاده کیږي چې د زده کړې د اختلال لرونکو زده کوو سره به د [د زده کړې د اختلال لارښود کتاب] مطابق مرسته کویی؛
- په اړونده خدماتو کې کېدی شي داسې مرستې شاملې وي چې د متخصص معالج په واسطه ستاسو د ماشوم د لویو عضلاتو اړوند مهارتونه ښوبد وموومي که چیرې ستاسو ماشوم په لیکلو کې هم ستونزه ولري؛ او
- او په فرعي او تکمیلي مرستو او خدماتو کې د لیک برخې د کورنیو دندو لپاره له وینا پر متن د اړولو ګزینو لپاره ستاسو د ماشوم د اړتیاوو مستند کول شاملیږي.

**ارزونې**

» په دې اړه معلومات چې ستاسو ماشوم به څنګه د ایالت او ناحیې په کچه په **ارزو نو کې برخه اخلي**. په شمول د دې چې د اضافي وخت په څېر آسانتیاوې اړیني دیی کنه.

**انتقال**

» **د لیږد خدمات** : کله چې ستاسو ماشوم 14 کلنی ته ورسیږي، IEP باید له عالي ښوونځي وروسته ستاسو د ماشوم لپاره په پلان باندې کار پیل کړي او دا چې د ځانګړې زده کړې خدمات به په دغو پلانونو باندې له کار کولو سره څنګه عیاریږي.

**ځای پر ځای کول**

» IEP ستاسو د ماشوم تعلیمي **ټاکنه** یاداشت کوي. د ټاکنې د پریکړو په هکله د هغې اړتیا په واسطه لارښوونه کیږي چې په حد اقل محدود چاپیریال (LRE) کې تعلیم ورانديږي شي. د LRE موخه دا ده چې ستاسو ماشوم د هغوی اړتیاوو ته په پام سره په ټولګې کې د امکان تر حده او څومره چې مناسبه وي د معلولیت نه لرونکو زده کوونکو سره کښېني.

---

دغه فورمه د هغو حقونو لنډیز دی، چې له ارجاع وروسته باید والدینو ته ورکړل شي. ستاسو لاسلیک یوازې دا په تصدیقوي چې تاسو فورمه ترلاسه کړې ده. د خپلو حقونو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره، [د خوندیتوب د طرزالعملونو خبرتیا] او [د ARD پروسې په هکله د والدینو لارښود] وګورئ.

| | |
|---|---|
| د زده کوونکي نوم: | د زده کوونکي د آی ډي شمېره: |

د والدینو یا پالونکي نوم

لاسلیک

نېټه